**بسم الله الرحمن الرحيم**

**څرنګه له کفر او شرک څخه ډډه وکړم او له ایمان سره ومرم؟**

(ژباړه)




**پوښتنه:**

**السلام علیکم و رحمت الله و برکاته!**

څرنګه له کفر او شرک څخه ډډه وکړم او له ایمان سره ومرم؛ ځکه زه نه غواړم په خپلو اعمالو کې د ډېر زیان کوونکو کسانو له ډلې څخه وم؟ ایا کفر یوزاې عملي دی که قولي او یا عقیدوي؟ د مهربانۍ له مخې ځواب راکړئ. الله سبحانه و تعالی دې توفیق درکړي.

**ځواب:**

**وعلیکم سلام و رحمت الله و برکاته!**

ستاسو پوښتنه دوې برخې لري:

**لومړی:** څرنګه یو شخص له کفر او شرک څخه ډډه وکړي او له ایمان سره ومري؟

**دویم:** کفر عمل دی که خبرې او که عقیده؟

په پیل کې ستا د پوښتنې دویمې برخې ته ځواب وایم؛ ځکه د دویمې برخې ځواب د لومړۍ هغې د ځواب بنسټ دی.

له شک پرته عقیده او ایمان یوه معنا لري. چې هغه له واقعیت او دلیل سره سم جازم (قطعي) تصدیق دی. د ایمان ځای زړه دی او ایمان له واقعیت او دلیل سره په جازم تصدیق پورې اړه لري، نه یوازې تصدیق؛ تر څو ایمان د زړه په تل کې ځای ونیسي، په داسې حالت کې یو شخص مومن بلل کېږي. همداراز د کفر ځای هم زړه دی؛ ځکه کفر هم په تصدیق پورې اړه لري او د تصدیق ځای زړه دی؛ ځکه الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ﴾
[حجرات: ۱۴]

***ژباړه:*** *دغه بانډه چيان (صحرايي عرب) وايي: چې موږ ايمان راوړ. دوی ته ووايه: «تاسې ايمان نه دی راوړی؛ بلکې داسې ووایاست چې موږ اطاعت کوونکي شوو. ايمان لا تر اوسه ستاسې په زړونو کې نه دی داخل شوی».*

﴿وَلَكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ أُوْلَئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ﴾
[حجرات: ۷]

***ژباړه:*** *خو الله سبحانه و تعالی تاسې ته د ايمان مينه درکړه او هغه يې ستاسې لپاره په زړه پورې وګرځاوه، او له کفر، فسق او نافرمانۍ څخه يې تاسې کرکجن کړئ، پر حق ثابت کسان همدغه دي.*

﴿مَن كَفَرَ بِاللَّهِ مِن بَعْدِ إيمَانِهِ إِلاَّ مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالإِيمَانِ وَلَكِن مَّن شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْراً فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾
[نحل: ۱۰٦]

***ژباړه:*** *څوک چې له ايمان راوړلو وروسته کافر شي ( هغه که) مجبور کړل شوی وي او زړه يې پر ايمان ډاډه وي (نو بيا خو خير دی). خو چا چې په خوښۍ سره کفر ومانه، پر هغه د الله سبحانه و تعالی غضب دی او د ټولو دغسې خلکو لپاره ستر عذاب دی.*

د پورتنيو دليلونو پر بنسټ د ايمان او کفر مدار، په زړه تصديق او پر هغه ايمان لرل دي، نه پر خبره (وينا) او عمل(کردار)؛ ځکه خبره او عمل له جوارح (د بدن د غړو) افعالو څخه دي او دا دواړه د زړه له تصديق پرته وي؛ خو د دې خبرې په اسلوب کې دوو لاندې ټکو ته پام اړين دی:

۱. له شک پرته عمل او خبره عقيده نه ده؛ خو دغه دواړه له عقيدې څخه رېښه اخيستې او عقيده ښکاروي. په دغه حالت کې خبره او عمل د عقيدې حکم لري او دا امکان شته چې په هغه باندې يو شخص کافر وګڼل شي. مسلمان په لاندې څلورو حالتونو کې د اسلام له دايرې وځي:

**الف) په عقيده:** که څوک پر غير اسلامي (د اسلامي عقيدې مخالف) څيز ايمان ولري؛ يعنې که يو څوک له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وروسته د يو شخص په نبوت باندې ايمان ولري؛ مثلاً: څوک چې په قادياني نبوت ايمان ولري او دغه شخص د خپلې عقيدې په اساس کافر ګڼل کېږي، ځکه چې د هغه زړه له اسلام پرته پر بل شي ايمان راوړی.

**ب) په شک او تردید:** څوک چې د اسلام په يقيني او قطعي امر شک ولري؛ يعنې څوک چې د حضرت محمد صلی الله وسلم پر نبوت شک وکړي، نو دا شخص د خپل شک پر بنسټ کافر ګڼل کېږي؛ ځکه د هغه زړه د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په نبوت ايمان نه دی راوړی.

**ج) په هغه خبره چې د ده له عقيدې يې سرچينه اخيستې وي:** يو څوک ووايې چې خالق نشته او يا ووايي چې قران کريم د الله سبحانه و تعالی کلام نه دی؛ نو څوک چې داسې خبرې وکړي د همدې خبرې پر بنسټ چې پر عقيده يې دلالت وکړي کافر دی؛ خو په دغه حالت کې شرط دا دی چې دغه خبره کې تأويل او توجيه نه وي؛ بلکې کفر يې په خبرو کې واضح او قطعي وي.

**د) په هغه عمل چې د ده له عقيدې يې سرچينه اخيستې وي:** څوک چې بُت (مجسمې) ته سجده وکړي او يا د يهودو او نصارا وو لمونځ وکړي او يا داسې نور اعمال چې د هغه په عقيده دلالت وکړي، کافر کېږي او په دغه حالت کې دا عمل تأويل ته اړتيا نه لري؛ بلکې واضح او قطعي کفر دی.

دا هغه څلور حالتونه وو چې يو مسلمان يې په کولو کافر کېږي، له اسلام پرته او د اسلامي عقيدې خلاف پر بل شي ايمان درلودل او په اسلام کې په قطعي او يقيني شيزونو شک لرل، څرګنده ده چې دا دواړه د زړه له عملونو څخه دي؛ ځکه عقيده او شک دواړه په تصديق پورې اړه لري؛ خو له يو لوري خبره او عمل کول د زړه له فعلونو څخه نه دي؛ بلکې د ژبې او بدن د غړو او ژبې فعلونه دي؛ خو په حالت کې چې خبره او يا عمل په زړه پورې تړاو پيدا کړي او په هغه څه چې زړه ايمان ولري دلالت وکړي؛ نو هماغه خبره او عمل د زړه له عملونو ګڼل کېږي؛ لکه چې په پورتنيو بېلګو کې مو بيان کړل.

نور ټول هغه خبرې او فعلونه پاتې کېږي چې د عقيده کوونکي پر عقيده دلالت نه کوي او هماغه خبره او عمل يې د کفر او ايمان دايرې ته نه شامليږي؛ لکه څوک چې ګناه وکړي، په داسې حال کې چې په اسلام او اسلامي عقيده باور لري. هغه څه چې پر مسلمان لازم دي، د هغه مسلمان چې ګناه کوي نه تکفيرول دي؛ خو که پر ګناه سربېره، انکار هم وکړي؛ لکه هغه څوک چې روژه نه نيسې او د روژې له فرضيت څخه هم انکار وکړي. نو په دغه حالت کې کافر کېږي. څوک چې روژه نه نيسې او د روژې په فرضيت اقرار کوي، فاسق دی نه کافر؛ ځکه تکفيرول په يقين سره وي او په اسلام کې يو لوی امر دی او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«إِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِأَخِيهِ يَا كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهِ أَحَدُهُمَا»**

(رواه بخاري، د ابی هريره په روايت)

***ژباړه:*** *که څوک خپل ورور ته ووايې؛ اې کافره هماغه کلمه (کافر) له دوی څخه يوه ته بېرته ورګرځي. څه يې چې ويلي وو که يې صدق وکړ، ښه او که نه، بېرته ده ته ورګرځي.*

په هغه روايت کې چې احمد له ابن عمر څخه نقل کړی، داسې راغلي:

**«مَنْ كَفَّرَ أَخَاهُ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا»**

***ژباړه:*** *کله چې څوک خپل مسلمان ورور کافر وګڼي، کفر له دوی دواړو څخه یوه ته ورګرځي.*

۲. جازم تصدیق د ملتزم او ژمنتوب په مانا دی چې هغه د ژبې او زړه یووالی او سمون دی. نو هغه څه چې په جازم (قطعي) دلیل ثابت وي، انکار دې نه ترې کوي؛ د بېلګې په توګه: وواییي زه پر الله سبحانه و تعالی پر قطعي دلیل ایمان لرم چې د کایناتو پیداکونکی دی او شریک نه لري او بیا وواییي چې الله سبحانه و تعالی تېروتنه کوي او یا شریک لري یا پیدا کوونکی نه دي او یا هغه څه چې الله سبحانه وتعالی فرض کړي او په قطعي دلیل ثابت وي چې الله سبحانه و تعالی فرض کړي، ترې انکار وکړي؛ مثلاً: وواییي چې په الله سبحانه و تعالی ایمان لرم؛ خو له لمانځه یا روژې او یا د دین له هر اړین امر چې واضح وي انکار وکړي؛ نو دا شخص کافر دی؛ ځکه دغه شخص د الله سبحانه وتعالی هغه امر چې په قطعي دلیل ثابت دی دروغ ګڼي.

پر دغه اساس ابلیس علیه اللعنه کافر شو؛ ځکه هغه د الله سبحانه وتعالی د امر له سموالي څخه چې ادم ته سجده کول وو انکار وکړ، سره له دې چې د الله سبحانه وتعالی پر وجود یې ایمان درلود؛ خو د الله سبحانه و تعالی د امر له سموالي څخه یې انکار وکړ. لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلاَّ تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَاْ خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ﴾**

[اعراف:۱۲]

***ژباړه:*** *(الله سبحانه وتعالی ابلیس ته) وویل: ته څه شي له سجدې کولو څخه منع کړې، کله چې ما درته امر کړی و؟ (ابلیس) وویل: زه له هغه څخه غوره یم . تا زه له اوره پیدا کړی یم او هغه له ختې.*

او په ډاګه یې کړه، الله سبحانه و تعالی په هغه امر کې چې نوموړی باید ادم ته سجده وکړي، تېروتنه کړې او ابلیس علیه اللعنه فکر کاوه، چې سم کار دا دی چې باید ادم ابلیس ته سجده وکړي، نه هغه ادم ته. نو د الله سبحانه وتعالی د امر له سموالي څخه یې انکار وکړ چې د خپل دغه عمل پر بنسټ د مجرمو کافرانو له ډلې شو. همدا راز هغه کسان په هغو آیتونو چې موسی علیه سلام راوړي وو په خپلو زړونو کې د هغوی په سموالي ایمان درلود؛ خو په خپلو ژبو یې انکار وکړ او هغه یې سحر او جادو وګاڼه. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنفُسُهُمْ ظُلْماً وَعُلُوّاً فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ﴾**

[نمل: ۱۴]

***ژباړه:*** *هغوی له سره تر پایه د ظلم او غرور له لارې له دغو نښانو څخه انکار وکړ، په داسې حال کې چې زړونه یې پرې قائل شوي وو. اوس وګورئ چې د هغو مفسدانو عاقبت څنګه شو.*

**د خبرو خلاصه:** په کفر کې اصل د اسلامي عقيدې خلاف په يو شي ايمان لرل دي، نه خبره او عمل؛ خو که خبره او عمل له عقيدې سرچينه واخلي او يا په هغه کې د اسلام له قطعي امر څخه انکار وي، په دغو حالتونو کې خبره او عمل د عقيدې حکم پيدا کوي، العياذ باالله خبره او عمل کفري دي.

د پوښتنې د لمړۍ برخې ځواب: دا چې څرنګه يو شخص له کفر او شرک څخه ډډه وکړي او له ايمان سره ومري، په دې ځای کې بايد دوه اساسي ټکي مرعات کړي:

۱. د عقيدې په اخيستلو کې د قران او نبوي ستنو پر صحيح تګلاره ولاړ وي، د هغه ځينې نښې به په لاندې ټکو کې بيان کړو:

الف) قطعي او يقيني عقيده لرل؛ نه ظني او ګوماني. هغه دليلو نه چې د عقيدې پر موضوع دلالت کوي، داسې دلايل وي چې په ثبوت او دلالت کې قطعي وي (قطعی الثبوت او قطعی الدلاله وي)؛ څکه الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ لَيُسَمُّونَ الْمَلَائِكَةَ تَسْمِيَةَ الْأُنْثَى . وَمَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئاً﴾

[نجم: ۲۷- ۲۸]

***ژباړه:*** *خو کوم کسان چې اخرت نه مني، هغوی په پرښتو باندې د ښځينه معبودانو نومونه ږدي؛ په داسې حال کې چې له دوی سره د دغې معاملې هېڅ علم نشته. دوی تش د ګومان پيروي کوي. او ګومان د حق پر ځای هېڅ په کار نشي راتلی.*

نو په عقيده کې ګومان بسنه نه کوي؛ بلکې عقيده بايد يقيني او قطعي وي.

**ب)** پر عقيده د پوهېدو لپاره پر هغو عقلي دليلونو تکيه چې د څيزونو په اړه حس کېدای شي؛ لکه د الله سبحانه وتعالی په مخلوقاتو کې فکر کول او په نقلي دليلونو تکيه او د غيبي چارو په اړه وحيې چې انسان يې نه شي حس کولی فرمايلي دي او په هغه څه بسنه چې وحی بيان کړي؛ يعني د اسلامی عقيدې او فلسفي موضوعاتو نه ګډول؛ بلکې د اسلامي عقيدې د بحثونو په اسانۍ زده کړه او درک کول او په عين وخت کې په ژور او دقيق ډول، لکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اصحابو په څېر چې اسلامي عقيده يې زده او درک کړه.

انسان بايد د الله سبحانه وتعالی د مخلوقاتو په اړه فکر او تدبر وکړي او په پای کې دې پايلې ته ورسېږي، چې دا څيزونه پيدا کوونکی لري؛ لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿أَفَلَا يَنْظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ﴾

[غاشيه: ۱۷ - ۲۰]

*ژباړه: نو ایا دوی اونښ ته نه ګوري چې څنګه پیدا کړل شوی دی؛ اسمان ته نه ګوري چې څنګه او چت کړای شوی دی؛ غرونو ته نه ګوري چې څنګه ښخ درول شوي دي او ځمکې ته نه ګوري چې څنګه غوړول شوې ده؟*

همدارنګه فرمايي:

**﴿أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بَل لَّا يُوقِنُونَ﴾**

[طور:۳۵ - ۳۶]

*ژباړه: ایا دوی له کوم خالق څخه پرته پخپله پیدا شوي دي؟ یا په خپله د خپل ځان هستونکي دي؟ ایا دوی اسمانونه او ځمکه پیدا کړې ده ( دوی یې پیدا کونکي دي)؟ اصلي خبره دا ده چې دوی باور نه لري.*

او په بل آیت کې داسې فرمايي:

**﴿وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِّلْمُوقِنِينَ ۝ وَفِي أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ﴾**

[ذاريات: ۲۰- ۲۱]

*ژباړه: په ځمکه کې د باور کوونکو لپاره ( د لله سبحانه و تعالی د قدرت) ډېرې نښانې دي او پخپله ستاسې په خپل وجود کې (د عبرت نښنانې دي). ایا تاسې په ځیر کتوونکي نه یاست؟*

نو د قران کريم په آيتونو کې تدبر وکړئ او دغه کار چې الله سبحانه و تعالی چاته اسان کړی وي، اسان دی لکه څنګه چې الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ﴾**

**[القمر: ۱۷]**

*ژباړه: او په یقیني توګه، موږ دا قران د نصیحت لپاره اسانه وسیله ګرځولې ده، نو ایا څوک نصیحت منونکي شته؟*

پر هغو احکامو او غيبياتو چې په قران کې راغلي، ایمان راوړئ او د هغو غيبياتو په اړه چې انسان يې نه شي حس کولی، تجسس (پلټنه) مه کوئ؛ بلکې لکه څرنګه چې په وحی کې يادونه شوې، ایمان راوړئ. نو په اسماء الحسنی(د الله سبحانه وتعالی په نومونه) په هغه ډول چې په وحی کې نازل شوي، ایمان راوړئ او د الله سبحانه وتعالی په ذات کې تجسس مه کوئ؛ لکه څنګه چې الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿لاَّ تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾**

[انعام: ۱۰۳]

*ژباړه: سترګې الله نه شي موندلای او الله سترګې موندلی شي. هغه ډېر زيات باريک بين او باخبره دی.*

او په ټولو غيبياتو لکه: د اخرت په ورځ، جنت، دوزخ په نورو غيبياتو ایمان راوړي او هغه څه چې په قران کريم او صحيح احاديثو کې راغلي، له زياتوالي او عيب پرته ورباندې بسنه وکړي؛ ځکه الله سبحانه وتعالی فرمايلي:

**﴿تِلْكَ مِنْ أَنبَاء الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ مَا كُنتَ تَعْلَمُهَا أَنتَ وَلاَ قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَذَا فَاصْبِرْ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ﴾**

[هود:۴۹]

***ژباړه:*** *اې پيغمبره (ص)! دا غيبي خبرونه دي چې موږ يې تا ته وحی کوو. له دې څخه مخکې نه ته ورباندې پوهېدلې، نه ستا قوم، نو صبر وکړه، نتيجه د پرهېزګارنو په ګټه ده.*

**﴿قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ﴾**

[نمل: ٦٥]

***ژباړه:*** *دوی ته ووايه! په اسمانونو او ځمکه کې هېڅوک له الله پرته د غيبو علم نه لري او هغوی نه پوهېږي چې کله به راپاڅول کېږي.*

۲. مسلمان بايد پر الله سبحانه وتعالی ايمان لرلو کې مخلص نيت ولري، له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره صادق او په الله سبحانه و تعالی توکل کوونکی او په هدايت يې لار پيدا کوونکی او تقوا داره وي، له ظلم او ګناه څخه ډډه وکړي او تل له الله سبحانه و تعالی دا دعا وغواړي چې د حق او ايمان په لاره کې يې ثابت وساتي. په هغه حديث کې چې ترمذي له انس رضی الله عنه څخه روايت کړی راغلي دي:

**«كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ: يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ»**

***ژباړه:*** *د رسول الله صلی الله عليه و سلم ډېرې دعا ګانې دا وې: اې د زړونو بدلوونکيه! زړه مې ستا په دين ثابت کړه.*

ترمذي وايي چې حديث حسن دی. نو الله سبحانه وتعالی دعا کوونکی شخص په خبرو کې باثباته ساتي؛ لکه څنګه چې الله سبحانه و تعالی فرمايلي:

**﴿يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُواْ بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّالِمِينَ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ﴾**

[ابراهيم: ۲۷]

***ژباړه:*** *الله ايمان راوړونکو ته په دنيا او اخرت دواړو کې د يوې ثابتې وينا پر بنسټ ثبات ورپه برخه کوي او الله ظالمان ګمراه کوي. د الله واک دی چې څه غواړي، کوي يې.*

او همدا راز فرمايي:

**﴿فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَى وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّى إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَى وَإِنَّ لَنَا لَلآخِرَةَ وَالأُولَى﴾**

[ليل: ۵- ۱۳]

***ژباړه:*** *نو چا چې (د الله په لار کې) شتمني ورکړه او (د الله له نافرمانۍ يې) پرهېز وکړ او د الله پر نېکه بدله باور ولري، نو هغه ته به موږ د اسانۍ لارې (شريعت) لپاره اسانتيا برابره کړو. او چا چې بخيلي وکړه او (له خپل خدای څخه يې) بې پروايي وکړه او د الله نېکه بدله يې دروغ وګڼله، هغه ته موږ سخت ځای (دوزخ) ته د ورتګ لار اسانه*

*کړو. بیا به یې مال څه په درد وخوري، کله چې تباه شي، په کنده کې ولوېږي؟ بېشکه لاړ نبودل پر موږ دي. په حقیقت کې موږ د اخرت او دنیا دواړو مالکان یوو.*

۳. په پای کې باید ووایو: مسلمان هغه څوک دی چې په اسلامي عقیده ایمان ولري یعنې د الله سبحانه و تعالی پر وجود، ملایکو، اسماني کتابونو، پیغمبرانو، د اخرت پر ورځ، قضا او قدر، خیر او شر ایمان ولري. لکه څنګه چې په قران کریم کې راغلي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ آمِنُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَى رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِيَ أَنزَلَ مِن قَبْلُ وَمَن يَكْفُرْ بِاللّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً بَعِيداً﴾**

[نساء: ۱۳٦]

***ژباړه:** اې مومنانو! پر الله، پېغمبر او پر هغه کتاب ایمان راوړئ چې الله پر خپل پېغمبر نازل کړی دی او پر هغه کتاب چې له دې څخه مخکې یې نازل کړی دی، چا چې له الله، د هغه له پرښتو، د هغه له کتابونو د هغه له رسولانو او د اخرت له ورځې څخه انکار وکړ، هغه په ګمراهی کې ډېر لیرې سرګردان ولاړ.*

همدارنګه په هغه حدیث کې چې بخاري له ابوهریره او مسلم له عبدالله بن عمر څخه روایت کړی چې د مسلم په روایت کې په دغو الفاظو بیان شوی:

ژباړه: له حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه څخه روایت دی چې وېې ویل: یوه ورځ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، ناڅاپه یو سړی چې سپینې او رنې جامې پر تن وې او تورو وېښتان یې درلودل، د سفر ستړیا او دوړې نه وربانديې لیدل کېدې؛ زموږ مجلس ته راغی. موږ یوه هم نه پېژانده، مخکې لاړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دومره نږدې کېناست چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې زنګنونه ولګېدل او ډېر په ادب یې خپل دواړه لاسونه پر خپلو ورنونو کېښودل او ویې ویل: اې رسول الله صلی علیه وسلم، ما له اسلامه خبر کړه! رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اسلام دا دی چې ووایې له الله سبحانه وتعالی پرته بل معبود نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه استازی دی. لمونځ وکړې، د مال زکات ورکړې، د رمضان د میاشتې روژه ونیسې او که کولی شې حج وکړې. ویې ویل: رېښتیا دې وویل (سمه ده). موږ هغه ته حیران شوو چې پوښتنه کوي او خپله یې تصدیقوي. بیا یې وویل: ما له ایمانه خبر کړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ایمان دا دی چې د الله سبحانه وتعالی پر وجود، ملایکو، اسماني کتابونو، رسولانو، د اخرت ورځ، قضاء او قدر، خیر او شر ایمان ولرې. بیا یې وویل: رېښتیا دې وویل. ورپسې یې وپوښتل: احسان څه شی دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: احسان دا دی چې د الله سبحانه وتعالی په داسې ډول عبادت وکړې لکه هغه چې وینې او که ته هغه نشې لیدلی، یوه شه چې هغه خامخا تاویني. بیا یې تصدیق کړه او ویې پوښتل: قیامت به څه وخت وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: په دې اړه زه له تا ډېر نه پوهېږم. نو ویې ویل: نښې یې څه دي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د قیامت نښې دا دي چې ښځه خپل واکدار او رییس وزېږوي (اولادونه پر خپلو میندو واکمني وکړي)، بل دا چې پېښې لوڅي، نوم ورکي او شپانه به د ډېر مال او پانګې خاوندان شي او په دنګو ودانیو به ویاړ او تکبر کوي او د دنیا په ښکلاوو کې به افراط کوي. نو پاڅېده او لاړه او زه ورسته ډېره موده د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مجلس کې پاتې شوم. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې عمره! پوهېږې هغه څوک و، ومې ویل: الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهېږي. ویې وفرمایل: هغه جبرائیل و، تاسو ته راغی، تر څو دین درزده کړي.

او په پای کې پوښتونکې ته له الله سبحانه وتعالی څخه له نیکۍ ډک ژوند، چې د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په اطاعت کې وي غواړم، تر څو په دنیا او اخرت کې بریالی وي او دا لویه بریا ده.

**ستاسو ورور عطاء بن خلیل ابو رشته**

**۱۴۳۸هـ.ق، د شعبان ۳مه**

**۲۰۱۷م، د مې ۱**

**ژباړه: علی عمار**